

KHUSHAL KHYBER PAKHTUNKHWA BUDGET 2026-27

خوشحال خیبر پښتونخوا بجټ ۲۷-۲۰۲۶

FINANCE DEPARTMENT
GOVERNMENT OF KHYBER PAKHTUNKHWA

فنانس ډیپارټمنټ
حکومتِ خیبر پښتونخوا

خوشحال، موقعي اؤ دَ عوامي سپکړي بجټ

دَ مالياتي استحکام بحالي اؤ سرکاري مالیات پۀ مضبوطو بنیادونو اودرولو نه پس دَ ۲۰۲۶-۲۷ء
دَ بجټ بنیادي مرکز دَ عوامو دَ ژوند معیار ښـــــۀ کول دي. دَ دې بجټ پۀ ذریعه دَ زمیندارو، کاروباري طبقې، ځلمو، زنانه ؤ، طالب علمانو اؤ دَ معاشرې دَ کمزورو مستحقو طبقو دَ مرستې لپاره مؤثره سرمایه کاري شوې ده چې دَ امن پۀ فروغ، معاشي ترقی، دَ روزګار پۀ موقعو کښې دَ زیاتوالي اؤ معیاري عوامي خدماتو پۀ رسایی یقیني کولو کښې به معاون ثابتېږي.

خوشحال خیبر پښتونخوا
KHUSHAL KHYBER PAKHTUNKHWA BUDGET 2026-27

عوام | ترقي | خوشحالي





خوشحال خیبر پښتونخوا

صوبائي بجټ صرف دَ اعداد وشمار کتاب نۀ دے. بلکې دَ خوشحال خیبر پښتونخوا دَ هغې وژن عملي خاکه ده. دَ کوم تصور چې زمونږ قائد عمران خان پیش کړے دے. چې پۀ کښې دَ عوامو خیر ښېګړه اولین ترجیح ده. دَ دې بجټ هره یوه روپۍ دَ صوبې دَ عام وګړي دَ ژوند ښۀ کولو لپاره مختص شوې ده. هغه کۀ محنت کش مزدور دے، فرض شناس ډاکټر، مخلص استاد، محنتي کسان، باصلاحیت ځلمے، یا هغه هوښیار طالب علم چې دَ صوبې روښانه مستقبل دے.

معیاري تعلیم، اسان اؤ دَ معیاري صحت سهولتونو، سماجي تحفظ اؤ انساني ترقی ته دَ ترجیح ورکولو پۀ اساس حکومت دا یقیني کول غواړي، چې یؤ وګړے هم دَ ترقی پۀ سفر کښې روستو پاتې نۀ شي. اؤ هر وګړي ته دَ باوقاره اؤ خوشحاله ژوند تېرولو برابر موقعې پۀ لاس ورشي.

عوام دوست طرزِحکمراني، دَ دائمي ترقی اؤ شریکې خوشحالی بنیاد دے. دَ عوامي وسائیلو پۀ داسې منصوبو کښې دَ سرمایه کاری پۀ ذریعه پۀ حقیقي اؤ ښکاره نتائجو کښې بدلولې شي. چې پۀ دې کښې دَ مفت همه ګیر صحت سهولتونه، نوي سړکونه، مؤثر عوامي ټرانسپورټ دَ توانائي مضبوط نظام اؤ دَ زراعت و صنعت دَ ودې اقدامات شامل دي. دا ترقیاتي منصوبې، دَ روزګار نوې موقع پیدا کوي. علاقې خپلو کښې یؤ ځائ کوي. معاشي سرګرمو له وده ورکوي اؤ دَ جامع اقتصادي ترقی لار هواروي. بالاخر دا بجټ دَ یؤ مضبوط، خودکفیل اؤ خوشحاله خیبر پښتونخوا دَ تعمیر ذریعه جوړېږي. چې پۀ کښې هر خاندان پۀ اعتماد، تحفظ اؤ دَ روښانه مستقبل امید سره ترقي وکړي شي.

دَ دې کتابچې باره کښې

دَ خېبر پښتونخوا حکومت دَ پاکستان تحریک انصاف (پي ټي ائي) په مشرۍ کښې دَ ۲۰۲۴ء دَ انتخاباتو نه پس خپل دریم بجټ وړاندې کوي .

دا کتابچه دَ خېبر پښتونخوا عوام په صوبائي بجټ په اسان او ساده ټکو کښې دَ پوهولو په غرض تیاره کړې شوې ده . دا دَ دې خبرې وضاحت کوي. چې حکومت مالي وسائیل څنګه حاصلوي، او په کومو شعبو کښې ئې خرچ کوي . او دا مالي فېصلې دَ عوامو په روزمره زندګۍ څه اثر غورزوي.

دا عوامي لاربښود دَ عوامي مالیاتو په حواله دَ حکومت دَ شفافیت فراخ دلۍ او دَ جواب دهۍ دَ ارادې عکاس دے دې سره سره دا خبره هم واضحه کوي . چې حکومت هره روپۍ ذمه واری، احتیاط او عقلمنده منصوبه بندۍ سره په عوامي خېر ښېګړې دَ خرچ کولو لپاره پُر عزم دے .



پیغام



سهیل افریدي
وزیرِ اعلیٰ
خیبر پښتونخوا

دَ خپښتونخوا عوامو چې پۀ خپلو نمائنده ګانو دَ کوم اعتماد اظهار کړے دے، هغه زمونږ دپاره یو مقدس امانت دے. دَ دغه اعتماد پۀ بدل کښې ضروري ده چې مونږ شفافیت، ذمه واري، ښۀ حکومت او دَ عوامي خدمت دَ اعلیٰ نه اعلیٰ اصولو باندې عمل سره سره خپلې ذمه واریۍ سر ته وۀ رسوو. دَ خپل مشر۔عمران خان دَ نظریې پۀ رڼا کښې مونږ دَ یو نوي اسلامي، فلاحي ریاست دَ قائمولو دپاره پۀ خپل عزم کلک ولاړ یو. چرته چې به انصاف، یو والے او دَ عوامو فلاح بنیادي غوښتنې وي. دَ دې ښار بجټ ۲۷-۲۰۲۶ء دَ دې عزم عملي اظهار دے. دَ دې مقصد دَ بجټ سره ترڅنګ ګران مالي معلومات پۀ ساده، واضح او دَ پوهې قابل انداز کښې عوامو ته وړاندې کول دي. چې هر اوسېدونکے پۀ دې پوهه شي چې دَ عوامو وسائیل به څنګه دَ خپر ښېګڑې دپاره پۀ کار راوستے شي. دَ دې کال بجټ دَ تسلسل او نوښت دواړو غمازي کوي. یو طرف ته مالیاتي نظم و ضبط، دَ مالي انتظام ذمه واري او دَ وسائیلو دَ مؤثر استعمال عزم خیال ساتلے شوے دے. ولې بل طرف ته جامعه ترقي، عوامي تحفظ او دَ عوامو دَ خدمت دَ معیار لا ښۀ کېدو باندې خصوصي توجو ورکړے شوې ده.

پروسه کال مو صحت کارډ پلس غوندې فلاحي کارونه لا زیات مضبوط کړل، احساس پروګرام مو لا خور کړو او دَ غذا دَ تحفظ دپاره مو کوټلي ګامونه پورته کړل. دَ دې دپاره چې دَ معاشرې پرېوتي او حق داره طبقې له سهارا ورکړې شي. زمونږ دَ ترقیۍ بنیادي ستنې تعلیم، صحت، دَ نوجوانانو اختیار، دَ ښځو مالي برخه او دَ ډیجیټل طرز حکومت سرمایه کارۍ دي. مونږ پۀ دې حقیقت رسېدلي یو چې دَ نړۀ ختمېدونکې ترقیۍ دارومدار پۀ امن او امان دے. په دې غرض مو پولیس فورس له دَ کار استعداد کښې اضافه، دَ جدید سهولیاتو ورکړه او دَ عوامو دَ ځان او مال دَ حفاظت دپاره ښۀ ډېر وسائیل خاص کړل. پۀ خصوصي توګه دَ دهشت ګردۍ دَ مخ نیوي اداره (سي. ټي. ډی) له دَ جدید کرښو پۀ ذریعه دَ کار کولو استعداد دَ لا زیاتوالي دپاره مو پراخه فنډ ورکړو. هم دغه شان دَ ۲۵۴ اربه روپو یو کلیز ترقیاتي پروګرام پۀ ذریعه متوازن، منصفانه او نړۀ ختمېدونکي ترقیۍ له مو ترجیح ورکړه. چې هره خرچ کېدونکې روپۍ دَ عوامو دَ خپر ښېګڑې ذریعه وۀ ګرځي.

دَ کال ۲۷-۲۰۲۶ء بجټ بنیادي مقصد نۀ صرف پۀ ترقیاتي منصوبو لګښت دے بلکې پۀ انسانانو لګښت دے. خوشحالۍ، موقعې او دَ عوامو دَ خپر ښېګڑې دَ بجټ مالي مضبوطیا بحال کول او سرکاري مالیاتي نظام نور هم مضبوط جوړولو نه پس، دَ ۲۷-۲۰۲۶ء کال دَ بجټ خصوصي توجو دَ عوامو دَ ژوند معیار ښۀ کولو بنادې ورکړې شوې ده. بجټ کښې پۀ زمیندارو، کاروباریانو، ځوانانو، ښځو، طلباؤ او دَ بې وسه حق دارو کورنیو سره دَ مدد کولو پۀ مرام لګېدونکي سرمایه کارویۍ له ترجیح ورکړې شوې ده. چې مقصد ئې معاشي ترقیۍ له وده ورکول، دَ روزګار موقعې برابرول او بغېر څۀ رکاوټ نه عوامي خدمت اسان او مؤثره لاس رسائي یقیني کړې شوې ده.

دا عوامي بجټ زمونږ دَ خوشحاله خپښتونخوا دپاره دَ اجتماعي عزم غمازي کوي. چرته چې به خوشحالیۍ دَ هر چا وي، هر اوسېدونکي ته موقعې وي او عوامي خپر ښېګڑه به دَ حکومت وړومبیۍ ترجیح وي. راځئ چې دَ عوامو او حکومت ترمینځه دَ اعتماد رشته نوره هم مضبوطه کړو. چې دَ عوامو هره روپۍ دیانتداري، شفافیت او پۀ اثر کوونکي انداز کښې استعماله شي او جامع او نړۀ ختمېدونکې ترقي یقیني کړے شي. مونږ دَ شفافیت، شمولیت او دَ جوابدهۍ پۀ اصولو کاربند یو او دَ ترقیۍ دا سفر مخ پۀ وړاندې بوځو. چې دَ عوامو دا اعتماد دَ راتلونکي نسل دپاره پۀ پائېداره خوشحالیۍ او ترقیۍ بدل کړے شي. زما پوره یقین دے چې دا بجټ به دَ خپښتونخوا دپاره دَ امن، خوشحالیۍ او ترقیۍ او پائېدار پرمختګ دَ یو نوي او روښانه باب شروع ثابته شي.

پېغام



مزمّل اسلم

دَ خزانې مشير

خېبر پښتونخوا

کليز بجټ صرف دَ امدن اؤ لګښـــــت مالياتي خلاصه نۀ ده بلکې دا دَ حکومت ذمه وار طرزِ حکمراني، مالياتي نظم و ضبط اؤ دَ عوامو دَ خېر ښېګړې پۀ عمل مبني ترقۍ دَ عزم جوت ثبوت دے. دَ مالي کال ۷۲-۲۰۲۶ء بجټ په دے انداز ترتيب کړے شوے دے چې دَ معاشي ترقۍ اؤ مالياتي بچت تر مينځه توازن اؤ يؤ شان والے برقرار پاتې شي. دَ دې دپاره چې پۀ ترجيحي شعبو کښې سرمايه کارۍ سره سره مؤثره عوامي خدمت ، مالي مضبوطيا دَ سرکاري وسائيلو پۀ هوښيارتيا سره استعمال کول يقيني کړے شي .

دَ خوشحالۍ اؤ عوامي خېر ښېګړې بجټ، دَ مالي استحکام بحال کېدو اؤ دَ صوبې مالياتي نظام مضبوط جوړېدو نه پس اوس دَ حکومت توجو دَ عوامو دَ ژوند معيار ښۀ کولو طرف ته ده. دَ ۵۲۴ ارب روپو دا فنډ دَ ټولې صوبې پۀ ضلعو کښـــې يؤ شان ترقۍ، دَ روزګار موقعې، دَ انســـاني وسائيلو دَ ترقۍ اؤ دَ عوامو خدمت دَ رسېدو له ترجيح ورکوي. هم دغه پۀ محصـــولاتو کښـــې ۴,۴۱ في صده اضافه زمونږ دَ دې عزم غمازي کوي. چې صوبه مالياتي خود کفيلۍ طرف ته ګامزنه شي اؤ پۀ بهرني وسائيلو تکيه لګولو کښـــې په مزه مزه کمے راوستے شي. دا بجټ پۀ دې مشـــــتمل دے چې زميندارو، کاروباريانو، ځوانانو، ښځو، طالب علمانو اؤ دَ معاشرې پرېوتې طبقې دپاره مؤثر قدم واخلي. چې دَ پائېدارې ترقۍ، روزګار طرف ته توجو اؤ دَ شريکې خوشحالۍ دپاره بنياد کېښودے شي .

زمونږ بنيادي اصول دا دي چې دَ عوامو هره روپۍ دې دَ عوامو دَ خدمت دپاره استعمال کړې شي. دَ مضـــــــبوط مالياتي نظام، شفافيت اؤ دَ جامعې ترقۍ نه راجوړ دا بجټ صرف دَ حســاب کتاب يؤ دستاوېز نۀ دے. بلکې دَ عوامو بااختياره جوړول، دَ دوي دَ ژوند معيار ښۀ کول اؤ پۀ رياست دَ عوامو اعتماد نور هم مضـــبوطولو دپاره يؤ جامع لائحه عمل دے. دَ خېبر پښـــتونخوا دَ وزير اعلٰى قيادت اؤ دَ چئيرمېن عمران خان دَ نظريې پۀ رڼا کښې مونږ دَ يؤ نوي اسلامي فلاحي رياست دَ جوړولو عزم لرو. کوم چې به هر وګړي له دَ خوشحالۍ اؤ وقار يؤ شان موقع ورکوي اؤ "خوشحاله خېبر پښتونخوا" دپاره مشترکه نظريې ته دَ حقيقت جامې واغوندي.

پیغام



شهاب علي شاه
چیف سیکرټري
خیبر پښتونخوا

دَ خیبر پښتونخوا حکومت دَ شفاف طرزِ حکمرانی، ذمه وار مالیاتي نظام اؤ مؤثره عوامي خدمت پۀ ذریعه یؤ خوشحال، جامع اؤ عوام دوست، بجټ سره دَ صوبې دَ تعمیر دپاره پرُ عزم دے. دَ مالي کال ۲۷-۲۰۲۶ء دا بجټ دَ دې عزم اظهار کوي. پۀ کوم کښـــــــــــې چې به سرمایه کاری له ترجیح ورکولې شي. چې دَ اوسېدونکیو دَ ژوند معیار ښۀ کولو سره سره دَ عوامي ادارو استعداد اؤ کارکردګي هم مضبوطه کړې شي. پۀ دې تبدیلی کښـــې ګډ ګورننس ریفارمز روډ مېپ (جي. جي. ار. اېم) ته مرکزي اهمیت حاصل دے. دا دَ حکومتي کارکردګۍ، جوابدهی اؤ عوامي خدمت کښـــــې ښۀ کولو دپاره دَ حکومت یؤ ښکاره اصلاحاتي پروګرام دے. دا روډ مېپ دَ خورې ورې منصوبه بندی کمزوري اداره جاتي هم اهنګی اؤ دَ نتائجو دَ محدودې نګرانی پۀ شان زړو مسئلو دَ حل کولو دپاره ترتېب کړے شوے دے.

ډیجټل ډېش بورډ (برقیاتي شماراتي تختی) سرکېدونکي اهداف اؤ دَ کارکردګی باقاعده جائزو باندې مبني دَ یؤ منظم لائحه عمل پۀ ذریعه حکومت دَ منصوبه سازی پۀ ذریعه وړاندې تګ سره پۀ عملي نتائجو توجه ورکړې ده. پۀ دې اصلاحاتي عمل کښې ډیجټلائزېشـن له بنیادي حېثیت ورکړے شوے دے. چرته چې به اي ګورننس پلېټ فارمز ښارني سهولتي مرکزونه، دَ پېژندګلو ډیجټل نظام اؤ دَ مصـــنوعي ذهانت په مدد سره پۀ دې اصلاحاتو مبني دَ نګرانی نظام اؤ عوامي خدمات لا زیات تېز، شفاف اؤ دَ هر اوسېدونکي دَ لاس رسېدو قابل جوړولے شي. دَ دې ښۀ اثرات پۀ ټوله صوبه کښـــې پۀ واضحه توګه لیدلے شي. دَ سماجي تحفظ دَ پروګرامونو پۀ ذریعه دَ کونډو رنډو اؤ یتیمانانو پۀ مدد کولو کښـــې اضافه شوې ده. دَ صحت پۀ هره شعبه کښـــې ضروري دوایانې دَ نومولود اؤ دَ مور دپاره بهتر طبي سهولیاتو تۀ دَ رسېدلو عمل کښې ښۀ والے راوستے شوے دے. تعلیمي شعبه کښې دَ سکولونو بنیادي ډهانچۀ مضبوطول اؤ دَ استاذانو دَ بهرتی دپاره اقدامات شوي دي. بل طرف تۀ دَ ښار ترقي، کرونده اؤ بنیادي ډهانچې پۀ لویو منصوبو دَ با اثره نګرانی پۀ وجه عملدرامد کښې بهتري راوستې شوې ده. دَ دې کامیابو پۀ بنیاد جي.جي.ار. ایم ۲۰ لاندې دَ اصلاحي پروګرام دائره کښـــې نورې محکمو اؤ شعبو تۀ وسعت ورکړے شوے دے. چې پۀ کښـــې به دَ خدماتو معیار دَ هغې با اثره استعمال اؤ دَ اوسېدنکیو پۀ خبر ښېګڑه خصـــوصي توجو ورکړې شوې ده. دَ جي. جي ار. ایم لاندې ګڼ اقدامات شوي دي. چې پکښـــې دَ ډیجیټل ادائېګی نظام، دَ ښکاره بجټ، شماراتي تختی اؤ پۀ مصـــــنوعي ذهانت مبني دَ اوسېدونکیو دَ رایۀ نظام دَ بجټ ۲۷-۲۰۲۶ برخه ده. ښه حکمراني اؤ ډیجیټل بدلون دپاره دَ مسلسل عزم پۀ ذریعه دَ حکومت دا مقصد یقیني کول دي دَ عوامو هره روپۍ نه زیاته نه زیاته فائده واخستې شي. اؤ اوسېدونکیو له پۀ زیاته مؤثره اؤ اسانه رسایی باندې مبني اؤ پۀ وخت دَ عوامو خدمات کول دي.

دَ عوامي بجټ دا رپورټ دَ مقصد دَ لاندې تیار کړے شوے دے چې هر اوسېدونکے دَ حکومت ترجیحات، اصلاحات اؤ دَ وسائلو تقســیم باندې پۀ ښۀ طریقه یوهه شي. دا راپور دَ شفافیت، جوابدهی اؤ دَ عوامو اعتماد له دَ ودې ورکولو دپاره دَ حکومت دَ پوخ عزم غمازي کوي.

پیغام



کیپټن ریټائرډ

کامران احمد افریدي

چیف سیکرټري

خیبر پښتونخوا

ما دپاره دَ خوشحالی خبره ده چې زۀ بجټ ۲۷-۲۰۲۶ دَ عوامو وړاندې پېش کوم. دا دستاویز دَ دې کار واضح، مختصر او عام فهم انداز کښې اګاهی ورکولو دپاره ترتیب کړے شوے دے چې دَ صوبې خبر ښېګړې او خوشحالی لۀ وده ورکولو او چې دَ عوامو وسائیل څنګه حاصل شو، څنګه مختص کړې شو او څنګه استعمال کړې شو؟ دا نشر ول دَ حکومت دَ شفافیت، دَ عوامو دَ شمولیت دَ غېر متزلزل عزم غمازي کوي. دَ دې دپاره چې مالیاتي معلومات عوامو ته پۀ داسې انداز کښې وۀ رسولې شي چې نۀ صرف دَ پوهېدو قابل وي بلکې دَ هغوي دپاره با معاني او فائده مند هم ثابت شي.

دَ خوشحال پښتونخوا مقصد دَ لاندې دَ مالي کال ۲۷-۲۰۲۶ پۀ بجټ کښې تعلیم، صحت، سماجي تحفظ، دَ بنیادي ډهانچې ترقي، کروندې او دَ روزګار پېدا کولو شعبو کښې سرمایه کاری تۀ خصوصي پاملرنه شوې ده. دَ دغه پاملرنې مقصد جامع او شمولیتي معاشي ترقی لۀ وده ورکول، سماجي استحکام او مضبوطیا او دَ تمام اوسېدونکیو دَ ژوند معیار لا زیات ښۀ کول دي. دَ دې سره سره حکومت دَ مالیاتي احتیاط، دَ بااثره عوامي خدماتو ترلاسه کولو او دَ سرکاري وسائلو پۀ ذمه واری سره دَ استعمال پۀ عزم پۀ پوره توګه ولاړ دې.

حکومت دَ عوامو مالیاتي نظم وضبط، بجټ سازی او طرزِ حکمرانی کښې دَ جامع اصلاحاتو اېجنډه هم مخ پۀ وړاندې بوځي. محصولاتو کښې اضافه، دَ اخراجاتو کارکردګي ښۀ کول، پۀ بجټ کښې شفافیت لۀ وده ورکول او پۀ شواهدو مبني فېصله سازی رائج کولو دپاره اقداماتو لۀ تشکیل ورکولې کېږي. چې دَ عوامو لۀ هرې روپۍ نه زیاته او بااثره فائده واخستې شي. دَ دې بجټ پۀ ذریعه زمونږ مقصد دَ حکومتي مالیاتو پۀ باره کښې عوامي پوهه او اګاهی له وده ورکول، دَ عوامو دَ شمولیت حوصله افزائي کول او اعتماد مضبوطول دي. دا دَ بااثره طرزِ حکمرانی بنیاد دے.

زۀ دَ خزانې دَ ټولو افسرانو او دَ عملې دَ محنت، او دَ پېشه ورانه صلاحیتونو او مضبوط عزم ته داد ورکوم. چې دَ دوي محنت، مهارت او مسلکي ایمانداری بجټ او دَ بجټ تیاری کښې اهم ثابت شو. دَ عوامو دَ خدمت او مضبوط مالیاتي نظم و ضبط دپاره دَ دوي مسلسل وابستګی دَ صوبې مالیاتي ډهانچه مضبوطولو کښې او زمونږ ترقیاتي مقاصدو حاصلولو کښې مسلسل بنیادي کردار ادا کړے دے.

مونږ ټول پۀ شریکه دَ یوۀ خوشحاله، شمولیتي او مضبوط خېبر پښتونخوا دَ تعمیر دپاره هوډمن یو. داسې خېبر پښتونخوا چرته چې معاشي، ترقي، سماجي خبر ښېګړه او یوه ښه حکمراني رایۀ ځائي شي او دَ موجوده او راتلونکي نسل دپاره یوۀ پائیدار او دَ روښانه مستقبل بنیاد کېږدي.

خوشحال خیبر پښتونخوا
KHUSHAL KHYBER PAKHTUNKHWA BUDGET 2026-27

01 پرۍ بجټ پوهه

2 | پرۍ بجټ یوۍ نظر

3 | اهم اقدامات

4 | پرۍ اهمو مسئلو ژور نظر

فنانس ډیپارټمنټ
حکومت خیبر پښتونخوا
FINANCE DEPARTMENT
GOVERNMENT OF KHYBER PAKHTUNKHWA

دَ بجټ بنيادي خبرې

دَ خېبر پښتونخوا دَ خپلو اخراجاتو پوره کولو لپاره دَ دوۀ ذريعو پۀ بنياد امدن حاصلوي يوه حصه دَ صوبائي ټېکسونو، فيسونو اؤ نورو محصولاتو نه وصولېږي چې ورته دَ صوبې خپل امدن وئيلې شي. دويمه حصه وفاقي حکومت ورکوي. وفاقي حکومت دَ ټول ملک نه ټېکسونه اخلي اؤ بيا دَ قابلِ تقسيم محاصلو نه دَ صوبې دَ مقرر شوي حصې مطابق رقم خېبر پښتونخوا ته منتقل کوي چې ورته وفاقي ترسيلات وئيلې شي.

دا مالي وسائيل عوامو ته تعليم، صحت، سړکونه، صفا اوبۀ، بجلي، دَ موسمي بدلون دَ مخ نيوي اقدامات اؤ دَ امن و امان پۀ شان اهم سهولتونه ورکولو لپاره پکارولې شي. دا خدمات دَ عوامو دَ امروزه ژوند معياري کولو سره سره پۀ صوبه کښې دَ روزګار موقعې پېدا کولو کښې هم مدد کوي. دَ دې وسائيلو يوه حصه دَ هغه سرکاري اهلکارو پۀ تنخواه ګانو اؤ نورو اخراجاتو خرچ کولې شي. څوک چې عوامو ته دَ دې خدماتو رسولو کښې خپل کردار ادا کوي.

دَ خېبر پښتونخوا مالي کال دَ جولائی نه شروع کېږي اؤ پۀ جون ختمېږي. صوبائی حکومت بهر کال پۀ جون کښې دَ راتلونکي کال دپاره بجټ جوړوي. دا بجټ مونږ ته دا ښائي چې دَ دې مالي کال پۀ دوران کښې صوبې ته څومره امدن يا وصولي متوقع ده، اؤ دَ عوامو پۀ خېر ښېګړې اؤ صوبې دَ ترقی دپاره دَ څومره رقم خرچ کولو منصوبه ده.

محاصل



سرکاري خزانه



حکومتي اخراجات


کښس


پارکونه


سکولونه


هسپتالونه


سړکونه


بجلي


روزګار


صفا اوبۀ

دَ خېبر پښتونخوا اؤ پاکستان پۀ ترقی کښې تعاون وکړئ.



ټېکسونه ولې ضروري دي؟

حکومت ته دَ سکول، هسپتال، صفا اوبۀ، بجلیۍ اؤ نور عوامي سهولتونه عوامو ته دَ ورکولو دپاره مالي وسائیل پکار وي. دا رقم تر ډېره حده دَ عوامو لۀ طرفه وکړې شوي ټېکسونه اؤ فیسونه پوره کوي چې حکومت زیات محصولات جمع کړي. نو هغه دَ عوامو اؤ دَ هغوي دَ خاندانونو دَ بهترۍ دپاره تعلیم، صحت، سړکونه، اوبو، روزګار اؤ نورو ضروري شعبو باندې زیات خرچ کولې شي. خو چې عوام ټېکس نۀ ورکوي نو حکومت سره بیا دوه بنیادي لارې دي.

دَ بېنکونو اؤ نورو ذرائعو نه مزید قرضه اخستل، یا

دَ صحت تعلیم او نورو عوامي خدماتو باندي اخرجات کمول

چې تاسو پۀ ایمانداریۍ ټېکسونه ورکوئ، نو تاسو حکومت سره دَ عوامو پۀ بهتر خدماتو ورکولو کښې تعاون کوئ. دَ ستاسو دَ ورکړې شوو ټېکسونو فائده بالاخر دَ بهتر عوامي سهولیات، بهتر خدمات اؤ بهترې معیاري زندګیۍ پۀ صورت کښې هم تاسو ته رارسي. نو ځکه خپل ټېکسونه باقاعدګیۍ اؤ ایمانداریۍ سره ادا کوئ. اؤ دَ خېبر پښتونخوا اؤ پاکستان په ترقیۍ اؤ خوشحالیۍ کښې خپل کردار ادا کوئ.

دَ بجټ جوړولو عمل

دسمبر
مارچ

دَ نظر ثاني شوي تخمينو ۲۰۲۵-۲۶ء (محصولاتو/ وصولیانو تخمیني) جائزه اؤ ختمي شکل ورکول

جنوري
مارچ

دَ بجټ مربوطه حکمتِ عملي اؤ دَ دستاویز تیاري

دسمبر
مې

دَ کال ۲۰۲۵-۲۶ء دَ بجټ تخمینه جاتو (جاري اخراجات) تشکیل دَ نوؤ اخراجاتو پۀ شمول (اېس این ایز)

دسمبر

دَ بجټ دَ تیاری لپاره دَ مربوط کال سرکلر اجراء

مې
جون

دَ کال ۲۰۲۵-۲۶ء
دَ بجټ منظوري

اپرېل
جون

دَ مالي مشکلاتو / خطره
دَ دستاویز تیاري

جنوري
اپرېل

ترقیاتي بجټ ته ختمي شکل ورکول اؤ سالانه ترقیاتي پروګرام پېش کول

دسمبر
مارچ

دَ ۲۰۲۵-۲۶ء نظرثاني کړې شوې تخمینو (جاري اخراجاتو) جائزه اؤ ختمي شکل ورکول

دَ خېبر پښتونخوا حکومت خپل وسائل څنګه پیدا کوي

نبغ پۀ نبغه ترسیلات

54 ارب
(2.5 %)

دَ تېلو اؤ ګېس رائیلټي اؤ دَ نور سر چارجونو نه جمع کړې شوې روپۍ

دَ بجلۍ خالصه منافع

117 ارب
(5.5 %)

پۀ صوبه کښې دَ اوبو دَ بجلۍ سالانه منافع

دَ بهرنو منصوبو امداد

150 ارب
(7.1 %)

پۀ صوبه کښې دَ ترقیاتي کارونو لپاره بهرنۍ چنده ورکونکو لۀ طرفه پۀ مختلفو شعبو کښې ورکړې شوې مختص رقم

دَ خپلو ذریعو وسائل

182 ارب
(8.6 %)

دَ خدماتو غېر منقوله جائېدادونه اؤ دَ مختلفو صوبائي محکمو لۀ طرفه پیدا شوې پۀ مختلفو امدنو باندې دَ عائد شوې اؤ وصول شوې صوبائي ټېکسونه اؤ محصولات

وفاقي ګرانټونه

229 ارب
(10.8 %)

دَ وفاقي حکومت لۀ خوا ګرانټونه دَ ضم شوي ضلعو دَ فنډونو پۀ شمول

وفاقي ترسیلات

1390 ارب
(65.5 %)

دَ اېف بي ار لخوا جمع شوې ټېکسونو کښې دَ قابلِ تقسیم محاصلو ترسیلات



دَ خېبر پښتونخوا حکومت خپل وسائل څنګه خرچ کوي؟



دَ تنخوا نه علاوه

685 ارب
(31.6 %)



پینشن

207 ارب
(9.5 %)



تنخواه

754 ارب
(34.7 %)



دَ پبلک سېکټر ترقیاتي پروګرام

5.2 ارب
(0.2 %)



بهرنۍ منصوبې

150 ارب
(6.9 %)



سالانه ترقیاتي پروګرام

369 ارب
(17 %)

1 | پۀ بجټ پوهه

02 پۀ بجټ یوۀ نظر

3 | اهم اقدامات

4 | پۀ اهمو مسئلو ژور نظر

فنانس ډیپارټمنټ
حکومت خیبر پښتونخوا
FINANCE DEPARTMENT
GOVERNMENT OF KHYBER PAKHTUNKHWA

امدن اؤ محصولات

ټول محصولات 2,122 ارب روپۍ

150 ارب
دَ بهرني امداد منصوبې

182 ارب
دَ صوبې خپل محصولات

199 ارب
دَ ضم شوي ضلعو ګرانټونه

1,241 ارب
وفاقي ټیکسونو کښې دَ صوبې حصه



ارب روپے

دَ کل بجټ اخراجات
2,170.0

بندوبستي ضلعي	1,897.1
ضم شوي ضلعي	272.9

جاريه
1,645.7

بندوبستي ضلعي	1,465.7
ضم شوي ضلعي	180.0

ترقياتي بجټ
524.3

بندوبستي ضلعي	431.4
ضم شوي ضلعي	92.9

خساره
48.0

ارب روپے

مد	بندوبستي ضلعي	ضم شوي ضلعي	کل
تنخواه	639.3	114.4	753.7
پینشن	201.5	5.6	207.1
دَ تنخواه نه علاوه	624.9	60.0	684.9
صوبائي سالانه ترقیاتي پروګرام (سره دَ اے ائي پیز اؤ دَ ضم شوې ضلعو دَ ترقیاتي پروګرام)	235.0	81.3	316.3
منتقل شوې سالانه ترقیاتي پروګرام (دَ ضم شوې ضلعو اؤ دَ ضلعي ترقیاتي پروګرام پۀ شمول)	47.0	5.8	52.8
دَ بهرني امداد منصوبې	145.2	4.8	150.0
پي ایس ډي پي	4.2	1.0	5.2
کل اخراجات	1,897.1	272.9	2,170.0

1 | پۀ بجټ پوهه

2 | پۀ بجټ یو نظر

03 اهم اقدامات

4 | پۀ اهمو مسئلو ژور نظر

دَ ځلمو بااختياره کولو لپاره تعليم ، مهارت اؤ موقعې



عوامي احساس ، بهتر حکومت ، دَ خدماتو رسائي اؤ دَ سماجي تحفظ پروګرام



محفوظه اؤ پُرامنه خيبر پښتونخوا دَ بهتر سماجي تحفظ پۀ ذريعه ترقي ، امن اؤ خوشحالۍ له وده ورکول



په مالي کال ۲۷-۲۰۲۶ء کښې ترجیحي موضوعاتي شعبې

علاقائي محرومی کمول

په تمام ضلعو کښې د متوازن او مساوي ترقی په ذریعه د احساس محرومی خاتمه او د علاقو ترمینځه تفاوت کمول



د معاشي ترقی او روزګار موقعې

د معاشي خوشحالی د ودې دپاره د سرمایه کاری، کاروباري سرګرمو او د روزګار په موقعو کښې اضافه



د اوبو د وسیلو تحفظ

د اوبو د وسیلو تحفظ او اوبو د ذخیرو تعمیر



موسمیاتي لچک، دَ ښنې ترقی اؤ دَ حیاتیاتي تنوع وده

دَ موسمیاتي اؤ ماحولیاتي لچک، ماحولیاتي تحفظ اؤ افتونو سره دَ مقابلې استعداد



دَ څښلو صفا اوبۀ دَ هر چا لپاره پۀ ټوله صوبه کښې محفوظه رسائي

پۀ ټوله صوبه کښې محفوظه رسائي



ډیجیټل خیبر پښتونخوا

پۀ ټیکنالوجی مبني خدمات اؤ ډیجیټل معیشت



په مالي کال ۲۷-۲۰۲۶ء کښې ترجیحي موضوعاتي شعبې



ځلمي با اختياره کول

ځلمي با اختياره کول

11.9 ارب روپۍ
(ترجيحي اقدامات)
دَ سرکاري يونيورسټيو مالي اعانت

8.7 ارب روپۍ
خيبر پښتونخوا هيومن کيپټل انوسټمنټ پراجيکټ
دَ تعليم شعبه

8.5 ارب روپۍ
(ترجيحي اقدامات)
دَ اي ايس اي اېف لپاره کرانټ اؤ مفت نصابي کتابونه

6.1 ارب روپۍ
(دَ ښۀ حکومت لائحه عمل - اقدامات)
پيرنټ ټيچر کونسل (پي ټي سي) فنډ

5.0 ارب روپۍ
(خصوصي اقدامات)
دَ سکولونو نه بهر دَ ماشومانو دپاره دَ وزير اعلٰی خصوصي اقدام

3.3 ارب روپۍ
(دَ ښۀ حکومت کارې لائحه عمل)
دَ کمي کارکردګۍ والا سکولونو انتظام نجي شعبې ته حواله کول.

2.0 ارب روپۍ
دَ يونيورسټو طالب علمانو ته بغېر سوده قرضې

1.9 ارب روپۍ
(خصوصي اقدامات)
پۀ سکولونو کښې دَ دويم شفټ دپاره وظائف

1.7 ارب روپۍ
(دَ ښۀ حکومت لائحه عمل)
دَ پي ټي سي پۀ ذريعه پۀ سکولونو کښې دَ استاذانو بهرتي

1.5 ارب روپۍ
(خصوصي اقدامات)
مشروط امداد (تعليم)

1.5 ارب روپۍ
(اهم اقدامات)
دَ اعلٰی تعليم پۀ محکمه کښې دَ لېکچررانو تعيناتي

1.5 ارب روپۍ
(اهم اقدامات)
احساس انټر شپ پروګرام



ځلمي با اختياره کول

822.0 ملين روپۍ
(خصوصي اقدامات)
دَ هائير سيکنډري سکولونو دَ خودمختاري لپاره ګرانټ

709.0 ملين روپۍ
پۀ خيبر پښتونخوا کښې سپورټس کمپلکس/ دَ لوبو مېدانونه اؤ دَ لوبو سهوليات ښۀ کول.

700.0 ملين روپۍ
پۀ خيبر پښتونخوا کښې چيف منسټر ماډل سکولونو (فېز ون)

500.0 ملين روپۍ
(اهم اقدامات)
دَ ضم شوې ضلعو طالب علمانو لپاره فني تعليم

487.0 ملين روپۍ
پۀ خيبرضلع کښې دَ نقصاني سکولونو دوباره تعمير

417.0 ملين روپۍ
پۀ خيبر پښتونخوا کښې دَ ٦٧ سکولونو قيام

400.0 ملين روپۍ
دَ ښۀ حکومت کاري لائحه عمل
دَ ښۀ حکومت کاري لاندې ضلعي انتظاميې لپاره ګرانټ

375.0 ملين روپۍ
پۀ خيبر پښتونخوا کښې پرې فيبريکيټډ ډهانچې پۀ ذريعه دَ ٥٠ پرائمري سکولونو قيام

358.0 ملين روپۍ
پۀ کالام ضلع سوات کښې دَ متعلقه سهولياتو لرونکي سټېډيم

350.0 ملين روپۍ
(خصوصي اقدامات)
رحمت اللعالمين وظائف

301.0 ملين روپۍ
دَ مردان ګرلز کېډټ کالج دپاره تعميراتي ګرانټ

300.0 ملين روپۍ
(خصوصي اقدامات)
دَ ستوري دَ پښتونخوا ټاپ ٢٠ پوزيشن اخستو والا لپاره وظائف

300.0 ملين روپۍ
دَ خيبر پښتونخوا پۀ ضم شوې ضلعو کښې دَ چيف منسټر ماډل سکول (فېز ون)





ځلمي با اختياره کول

300.0 ملين روپۍ
پۀ ضم شوي ضلعو کښې ابتدائي اؤ ثانوي سکولونو طالب علمانو لپاره وظائف

300.0 ملين روپۍ
احساس نوجوان پروګرام

300.0 ملين روپۍ
پۀ خېبر پښتونخوا کښې دَ ضرورت پۀ بنيادونو دَ لوبو مېدانونه

300.0 ملين روپۍ
دَ خوشحاله هزاري پروګرام پۀ ضلع بټګرام کښې دَ سپورټس کمپليکس قيام (کے ايچ پي)

212.0 ملين روپۍ
احساس اېجوکېشن انټرن شپ پروګرام

204.0 ملين روپۍ
دَ خېبر پښتونخوا پوزيشن اخستونکو لپاره ګړېجوېټ اؤ پوسټ ګړېجوېټ (قومي اؤ بين الاقوامي) وظائف

200.0 ملين روپۍ
(اهم اقدامات)
دَ طالب علمانو دَ حاضرۍ نظام

200.0 ملين روپۍ
پۀ خېبر پښتونخوا کښې دَ فټبال ګراؤنډونه

200.0 ملين روپۍ
پۀ ضم شوي ضلعو کښې دَ زراعت اؤ سائنس پۀ شعبو کښې انټرن شپ اؤ تعليمي وظائف

173.0 ملين روپۍ
پۀ ضم شوي ضلعو کښې دَ کېډټ کالجونو استحکام

154.0 ملين روپۍ
دَ ښۀ کارکردګۍ مظاهره کونکو استاذانو ، هيډ ماسټرانو اؤ پرنسپلانو لپاره معاوضه

150.0 ملين روپۍ
پۀ ضم شوي ضلعو کښې مفت نصابي کتابونه او بستې

150.0 ملين روپۍ
دَ ښۀ حکومت کارۍ لائحه عمل
دَ احتساب معيار دَ بهترۍ لپاره دي اېم ايز اؤ دَ مانيټرنګ سکواډ قيام

145.0 ملين روپۍ
دَ ديني مدرسو دَ طالب علمانو لپاره رحمة اللعالمين وظائف





110.0 ملین روپۍ
(دَ ښۀ حکومت کارۍ لائحه عمل)
دَ سپورټس ټپلنټ دَ ترقۍ استحکام

107.0 ملین روپۍ
پۀ لکي مروت ضلع کښې
سپورټس کمپلیکس

100.0 ملین روپۍ
پۀ خیبر پښتونخوا کښې دَ لوبغاړو
صلاحیتونه پالش کول

100.0 ملین روپۍ
اعلیٰ تعلیمي ادارو لپاره دَ تګ راتګ
سهولتونه

100.0 ملین روپۍ
(دَ ښۀ حکومت کارۍ لائحه عمل)
سکولونو لپاره دَ فرنیچر اخستل

100.0 ملین روپۍ
(دَ ښۀ حکومت کارۍ لائحه عمل)
پۀ صوبائي سطح سکولونو کښې دَ لوبو مقابلې

100.0 ملین روپۍ
(دَ ښۀ حکومت کارۍ لائحه عمل)
ګړېجوپټ کسانو ته روزګار ورکولو کښې تعاون

50.0 ملین روپۍ
(دَ ښۀ حکومت کارۍ لائحه عمل)
دَ مدرسو پۀ مینځ کښې دَ مقابلو پۀ ذریعه پۀ
هم نصابي سرګرمو کښې بهتري

30.0 ملین روپۍ
(خصوصي اقدامات)
دَ زنانه سپر وائزر لپاره مالي امداد

28.0 ملین روپۍ
(خصوصي اقدامات)
د داخلي مهم لپاره ګرانټ

20.0 ملین روپۍ
(خصوصي اقدامات)
دَ ضلعي کارکردګۍ معاوضه

15.0 ملین روپۍ
(دَ ښۀ حکومت کارۍ لائحه عمل)
پۀ ابتدائي جماعتونو کښې تعلیمي معیار بهتر
کولو لپاره مؤثر اؤ متوازن نصاب جوړول

10.0 ملین روپۍ
دَ کم سن ماشومانو دَ بحالۍ اؤ هنرمندۍ
ترقۍ پروګرام مضبوطول

10.0 ملین روپۍ
(خصوصي اقدامات)
دَ ابتدائي اؤ ثانوي تعلیم پۀ شعبه کښې دَ
ایس ډی اوز دَ دفترو استحکام



په مالي کال ۲۷-۲۰۲۶ء کښې ترجيحي موضوعاتي شعبې



عوامي احساس

عوامي احساس

80.0 ارب روپۍ
(اهم اقدامات)
هیلتھ میډیکل ټیچنګ انسټي ټیوټ

50.4 ارب روپۍ
(اهم اقدامات)
دَ بین الاقوامي هیلتھ کئیر لپاره دَ صحت سهولت اقدمات

15.0 ارب روپۍ
(اهم اقدامات) دَ مستحقو خلق احساس

14.3 ارب روپۍ
(اهم اقدامات) دَ دوایانو خریداري

14.3 ارب روپۍ
(اهم اقدامات) دَ هسپتالونو نجکاري

12.1 ارب روپۍ
(اهم اقدامات)
دَ خوراکي توکو تحفظ (غنم، چیني)

8.7 ارب روپۍ
دَ غېر تدریسي ضلعي هیډکوارټر هسپتالونو بحالي

5.8 ارب روپۍ
دَ صحت پۀ شعبه کښې دَ انساني سرمایه کاری منصوبه

4.4 ارب روپۍ
نېشنل هیلتھ سپورټ پروګرام

3.0 ارب روپۍ
(اهم اقدامات)
خېبر پښتونخوا تکافل انشورنس کمپني

2,820
دَ ډاکټرانو اؤ متعلقه طبي عملې تعیناتي

2.0 ارب روپۍ
(اهم اقدامات)
احساس اقدامات

1.8 ارب روپۍ
پۀ ضم شوې ضلعو کښې دَ دویمې درجې دَ صحت سهولتونه بحال کول . دَ حادثو اؤ هنګامي حالاتو یونټونه بهتر کول

1.2 ارب روپۍ
(دَ نبۀ حکومت کاری دَ لائحه عمل اقدامات)
دَ اېل اېچ ډبلیو پروګرام استحکام



عوامي احساس

1.0 ارب روپۍ
ارنم پي.اي تي ، سي تي، سائيکلوټرون منصوبې اپ ګريډېشن

1.0 ارب روپۍ
(ترجيحي اقدامات) احساس مور ، نوے امید نوے ژوند بهتر صحت پروګرام

800.0 ارب روپۍ
کيتهـ لېبارټرۍ اؤ دَ ضرورت پۀ بنياد پۀ صوبه کښې دَ مختلفو هسپتالونو قيام

460.0 ارب روپۍ
(دَ ښۀ حکومت کارۍ لائحه عمل)
دَ اي پي تي وېکسينېټرو لپاره پي او اېل

423.0 ارب روپۍ
پۀ ضم شوې ضلعو کښې دَ کېټګري ډي هسپتالونو لپاره دَاېکسپريس لائنونو فراهمي

400.0 ارب روپۍ
(دَ ښۀ حکومت کارۍ لائحه عمل)
پي اېم سي فنډز (فيسلټېشن منېجمنټ کمپټي)

400.0 ارب روپۍ
(ترجيحي اقدامات)
انصاف فيمېل اؤ يتيم اېجوکېشن کارډ

391.0 ارب روپۍ
دَ احساس خپل کور سکيم

360.0 ارب روپۍ
(دَ ښۀ حکومت کارۍ لائحه عمل)
دَ تعليمي کارډ پروګرام

300.0 ارب روپۍ
(دَ ښۀ حکومت کارۍ لائحه عمل)
دَ ښاريې دَ صحت سهولياتو نجکاري

250.0 ارب روپۍ
(دَ ښۀ حکومت کارۍ لائحه عمل)
دَ پئيو اؤ دَ غوښې دَ ټسټ استحکام

230.0 ارب روپۍ
پۀ ضم شوې ضلعو کښې دَ طبي مرکزونو لپاره
دَ نرسانو اؤ پيرامېډکس فراهمي

215.0 ارب روپۍ
دَ ضم شوې ضلعو هسپتالونو کښې
دَ ګردو دَ صفايۍ سهولتونه

200.0 ارب روپۍ
پۀ خېبر پښتونخوا کښې دَ جنوبي ضلعودَ فعال
بي اېچ يو اؤ ار اېچ سيز دَ نوې سره بهتر کول



200.0 ارب روپۍ
په خېبر پښتونخوا کښې د کېنسر د مستحق مریضانو د علاج سهولت کښې فراخي

150.0 ارب روپۍ
احساس روزګار پروګرام

100.0 ارب روپۍ
(ترجیحي اقدامات)
وېمن اکنامک امپاورمنټ انډ وومنټ فنډ

100.0 ارب روپۍ
(ترجیحي اقدامات) د ترهه ګرۍ بنکاري شوي اقلیتي افرادو لپاره انډوومنټ فنډ

100.0 ارب روپۍ
د خېبر پښتونخوا د سکولونو ماشومان د چینجو نه د پاکولو مهم

100.0 ارب روپۍ
(د ښۀ حکومت کاری لائحه عمل)
د قانوني امداد د نظام قیام

100.0 ارب روپۍ
(د ښۀ حکومت کاری لائحه عمل)
د زنانه ؤ اؤ خواجه سراؤ پۀ شمولیت د خبر ښېګړې د اقداماتو مضبوطیا

70.0 ارب روپۍ
په خېبر پښتونخوا کښې د دارالامان د موجوده ډهانچې معیار ښۀ کول

50.0 ارب روپۍ
پۀ ضم شوې ضلعو کښې د عیدګاه اؤ جنازه ګاه جوړول

40.0 ارب روپۍ
پۀ ضم شوې ضلعو کښې د پیراپلیچک مرکزونو قیام

31.0 ارب روپۍ
اي. اسلامک لرننګ اکېډمي اؤ مذهبي تقریبات

30.0 ارب روپۍ
د ماشومانو د شوګر قابو کولو پروګرام



په مالي کال ۲۷-۲۰۲۶ء کښې ترجیحي موضوعاتي شعبې

محفوظه اؤ پُرامنه خیبر پښتونخوا

18.0 ارب روپۍ

- دَ سيکورټي پۀ حواله دَ چيلنجونو دَ مخ نيوي لپاره پۀ ضلعو کښې دَ سي ټی ډي اؤ ضلعي انتظاميې مضبوطيا (2 ارب روپۍ)
- ضم شوې ضلعو کښې دَ سي ټي ډي اؤ پوليس دَ بنيادي ډهانچې پۀ استعداد کار کښې اضافه اؤ ترقي . فېز ون (2 ارب روپۍ)
- ضم شوې ضلعو کښې دَ سي ټي ډي اؤ پوليس دَ بنيادي ډهانچې پۀ استعداد کار کښې اضافه اؤ ترقي . فېز ټو (2 ارب روپۍ)
- خېبر پښتونخواکښې دَ سي ټي ډي پۀ ضلعي سطح دَ دفترونو قيام پۀ شمول دَ ريجنل هيډ کوارټرز پښور دَ دفتر تعمير (1 ارب روپۍ)
- دَ سي ټي ډي ډيپارټمنټ نقل و حرکت، اسلحه، الات اؤ دَ مجموعي جديد ردِ عمل نظام مضبوطول (969 ملين روپۍ)
- دَ سيکورټيِ دَ چېلنجونو ځپلې شوې ضلعو کښې پوليس، سي ټی ډي ډيپارټمنټ اؤ دَ ضلعي انتظاميې مضبوطول (20 ملين روپۍ)

14.5 ارب روپۍ

(ترجيحي اقدامات)

دَ پوليس لپاره دَ خريداريِ منصوبه

7.9 ارب روپۍ

(ترجيحي اقدامات)

دَ پوليس لپاره ماهانه اپريشنل سپورټ

5.3 ارب روپۍ

- ضم شوې ضلعو کښې سېف ستې پراجېکټ (جنوبي وزيرستان ، شمالي وزيرستان ، اورکزیِ اؤ کرمه) فېز ټو (1.8 ارب روپۍ)
- ضم شوې ضلعو کښې سېف ستې پراجېکټ فېز ټو (خېبر، مهمند، باجوړ) (1.6 ارب روپۍ)
- سېف ستې پښور پراجېکټ (700.0 ارب روپۍ)
- دَ ډوېژن پۀ سطح سېف ستې پراجېکټس ، کوهاټ ، مردان، سوات (500.0 ارب روپۍ)
- خېبر پښتونخوا سټيز پراجېکټس (کرک اؤ ټانک) (350.0 ارب روپۍ)
- سي پي او سره نزدې سېف ستې پښور پراجېکټ کمانډ اېنډ کنټرول سنټر (350.0 ارب روپۍ)
- سېف ستې مانسهره (کے پي اېچ) (20.0 ملين روپۍ)



1.0 ارب روپۍ
پۀ پښور کښې دَ فورنزک سائنس لېبارټري (ایف ایس ایل) قیام

669.0 ملین روپۍ
دَ پښور هائي کورټ سره دَ پارک پلازو جوړول

300.0 ملین روپۍ
پۀ ضم شوې ضلعو کښې 7 جوډیشل کمپلیکس جوړول

200.0 ملین روپۍ
پۀ ضم شوې ضلعو کښې 25 تحصیل جوډیشل کمپلیکس جوړول

200.0 ملین روپۍ
(دَ ښۀ حکومت کارۍ لائحه عمل)
فائر سېفټي اؤ هنګامي صورتِ حال دَ مخ نیوي لپاره دَ الاتو خریداري

200.0 ملین روپۍ
(دَ ښۀ حکومت کارۍ لائحه عمل)
دَ مائننګ ریسکیو سروس مضبوطول

200.0 ملین روپۍ
مائننګ ریسکیو سروس مضبوطول

198.0 ملین روپۍ
دَ جوډیشل اکېډمۍ پښور تعمیر

150.0 ملین روپۍ
